مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر
۲۰۲۱/۰۳/۰۴

# غـــزل

نظر مې شي ستومانه، بیرته ستا رخسار ته راشي
بې کوره مسافر دی، نا اشنا دیار ته راشي

په سترګو کې ځای نه لري، په زلفو کې دې ورک شي
یو سترې کلیوال، تیاره ماښام بازار ته راشي

د ژوند لوبه بایلي، خو په ګدا ځي د مرګ خولې ته
تش والوزي هواته، مرغی بیرته مار ته راشي

یتیم چې په ژړا شي، میره بیا ښپیره ورکړي
ماشوم که څوک خپه کړي، په ژړا به پلار ته راشي

هنداره تولې ماتې کړي، څو کاڼي دلته پریږدي
یو څو لیونیان ووځي، یو څو بیرته ښار ته راشي

په کور کې څراغ نه لري چې کیني یې رڼا ته
چې توره شپه خوره شي، سحر ځکه یار ته راشي

11/1/1381
وزیر اکبر خان مینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ